# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com | www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعي

۱۷ اپریل ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او ژباړنه
## ۴۵

### ۱۰۶- زُهد او زاهد:

په تصوفي او عرفاني اصطلاح، زهد له حرامو څخه ليريتوب؛ او د دونيايي اړېکو پرې کولو ته وايي . د وتلي عرفاني شېخ - عزيزالدين نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق ) له نظره، زاهد هغه چاته وايي، چې په دونيا (دنيا) کي څه ولري؛ خو په خپله خوښه او رضا يې پريښي يي (وي) . هغه څوک، چي له لويه سره يې د دونيا له مال او شتمنييوڅخه څه نه يي په برخه سوي، زاهد نه بلکي فقير دئ، چي بحث يې د فقر تر سر ليک لاندي څېړل سوئ دئ . زاهد يوازي د آخرت د ثواب يا د خداى د رضا دپاره، د دونيا تر هري ښې او ښادی تېرېږي[1] .

شېخ نسفي، په خپل لوړ او ارزښتناک عرفاني اثر « انسان الکامل » کي د زاهدانو د بېلابېلو ډلو په باب خبري کړي دي . د ده په نظر، زاهدان درې ډلي دي، چي د هغو بيان په دې ډول دئ:

- په اوله ډله کي هغه زاهدان دي، چي د قيامت او دوږخ له بېلابېلو عذابوڅخه د ژغورني په مقصد، زهد ته ملا تړي . دا د خايفانو يا بېرېدونکوزهد دئ .

- په دوهمه ډله کي هغه زاهدان دي، چي د آخرت د ثواب او د جنت د ډول ډول نعمتو په خاطر، د زهد لار غوره کيي(کوي) . داسي زهد د راجيانو يا هيله کوونکو زهد دئ .

- د زاهدانو په دريمه ډله يا تر ټولو لوړه مرتبه کي، هغه کسان شامل دي ، چي نه د دوږخ له بيري؛ او نه هم د جنت د ښو او ښادييو په هيله، د زهد لوري او سپېڅلي دونيا ته مخه نيسي . د شېخ نسفي په دې دري ګوني وېش کي دا زهد کوونکي ډله د عارفانو ډله ده، چي يوازي او يوازي د خداى د ميني او دوستی په خاطر، زهد لار تينګيي؛ او د خداى په سوځونکي مينه کي د بل هيڅ شي پروا نه لري . دا ډله له خدايه بېرېږي؛ خداى ته هيله لري؛ او هر څه له خدايه غواړي . دونيا او آخرت دعارفانو په عقيده، کوچنی او خوار دئ[2] .

د شيخ نسفي په اند، هغه زاهدان چي له خدای سره معامله کيي؛ ياني دونيا پرېږدي او جنت غواړي، د لوړعقل خاوندان دي؛ ځکه دوی په حقيقت کي د ختو کاسه پرېږدي؛ او د زرو کاسه غواړي . دا ډول عاقلان بايد د دونيا شتمنييو، جاه او جلال ته شا واړيي؛ ځکه مال او جلال انسان ته غم او تفرقه ور په برخه کيي۳ . حال دا چي رېښتيني عاقلان د دونيا تر هر مراد لاندي، سل نامرادۍ ګوري . له دې امله، د دونيا ديوه متزلزل او ناپايدار مراد دپاره هيڅکله همېشني او حقيقي ژوند سل نامېندۍ او نامرادۍ نه زغمي؛ او د هغي ميني د ترلاسه کولو په هيله، شپه او ورځ ځغاستي پاستي وهي، چي له هري نامېندۍ پاکه او ژغورلي ده .

زموږ روښان زړي عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپله عرفاني شاعرۍ کي زهد ته په خورا لوړ نظر کتلي دي . مخلص، دلويو عرفاني مخکښانو له ديداو ويناوو سره سم، زهد د تصوف او عرفان دريم مقام بولي، چي د پير روښان په عرفاني ډکتورينوکي د حقيقت له مقام سره يو شان ګڼل کيږي . مخلص، دا مقام په يوه غزله کي د اُحد له غره سره تشبيه کړئ دئ، چي هغه ته رسېدل يي د حضرت عيسا(ع) په څېر لوړ او اولوالعزمه پېغمبر برخه ګڼلي ده . د ده بيان دئ، چي وايي :

دئ دريم مقام د زهد، دی دئ سخت جبـــل اُحده
شه رسته چي پاس پر وخوت د کافر نوس له صولته
حقيقت زاهد ذاکر دئ چي له غيره کُل طاهر دئ
په نفي يي غير غوڅ کړ د نفي لا په صـلته
دا منزل د حقيقت دئ دنبيو بنه حـالت دئ
په حشر به د عيسا۴ شي، دئ ناجي شي له غفـلته

مخلص، د يوه سپېڅلي عارف په توګه، د زهد او زاهد په ستاينه کي له دې ټولو خبرو سره سره، نه د دونيا د عشوه ګرييو پروا لري؛ او نه هم د جنت د حورو او غلمانوپه لوموکي بند دئ . دی يوازي د هغه ميني په اور کي سوځي، چي دونيا او جنت ورته د خس او خاشاک حيثيت لري - د هغه چا مينه، چي اول او آخر نه لري؛ بې شماره عالمونه يي پيدا کړي دي؛ او په ټولو عالموکي د ګردو موجوداتو د ژوند او مرګ مالک دئ؛ لويينت او ستروالي يي هيڅ حدو نهايت نه لري؛ د ناپايه او بې مثله بحرپه څېر پر ټولو کايناتو راچاپېر سوئ دئ؛ په هره څپه کي (کي يي) ملکونه جوړيږي او ورانيږي . مخلص، له داسي بې ساري او بې مثاله هستی سره د خپلي ژوري او مخلصانه ميني پر بنسټ استدلال کيي، چي د دونيا او عقبا مينه، دواړه د عرفاني سالک د سپېڅلي او لېوني ميني په وړاندي خنډونه او پردې دي . تر هغه مهاله، چي څوک د دغه راز حجابو او موانعو په تور کي نغښتئ يي، د مولا د ميني دعوه يوازي لاپي او باتي دي :

هر چي نه لري په زړه کښي د مولا عشق
په خاطر کښي به يي اوسي د دنيا عشق
د مولا د ميني ضد دنيا، عقـــبا دئ
له دې دواړو سره نه اوسي دخـدا عشق
چي سالک د حق له ميني و جار بـاسي
د طالب په لار کښي سد دئ د عقبا عشق

بل ځای، د زاهدانو او عاشقانو د پرهېزګارۍ خورا ښکلی او په زړه پوري تصوير وړاندي کيي .
مخلص، په دې ښايسته غزله کي د خپل ريښتيني محبوب په دې پېرزويني وياړي، چي د دونيا او آخرت مينه يې د زړه له حرمه ليري کړې ده :

خايفان د اور له بيري پرهېزګـار دي
عاشقان يې پرهــېزګار دي له فراقـه
د دوزخ د اور له تاوه پرهــېز نه کـه
له دوزخه جدايي پر عـاشق شاقـــه
اوس طاعت يې د معشوق په خوشنودی دئ
د رجأ، خوف و طاعت يې که بې باقـه
په عوض بندګي مزدورکه په عالَـم کښي
بې عوضه بندګي کړي خواره عاقــه
که زاهد و حور، قصور وته هوس کـــه
رند عاشق يې و ديدار ته دئ مشتاقـه
حقيقي محبوب به چري پر راضــي شي
څو چي نه که د بهشت۵ حوره طلاقـــه
د عقبا عروس به مخ ور ښکاره نه کـه
څو دنيا و دين دور نه که له وثاقـــه
چي بې دوسته په څه خوښ شي په دووکــونو
له محبوب سره يې قطعي وي شقاقـــه
پر مخلص عاشق يې ځکه مِهــر دېر دئ
د دووکونو حُب يې کوز د زړه له طاقـه

**په يوه بله غزله کي د زاهدانو او عارفانو جنتونه پر تله کيي . د ده له عرفاني نړۍ ليد سره سم، زاهدان يوازي د جنت د ښو او ښاديو دپاره د دونيا له هر نعمت او خوښۍ څخه مخ اړيي؛ په داسي حال کي، چي د عارفانو جنت يوازي د يار ديدار دئ :**

**د زاهدو په جنت حور و قصور وي**
**د عارفو په جنت وينم** خنـدان حق
و عارف ته تجلاء۶ که پــــه هر لوري
**ور څرګند په هر زمان** په هر مکان حق
د عارف د زړه ګمان هاله نفــي شه
**چي** يې وليده د زړه په ديد عيـان حق

**د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : تسليم**، توبه، توکل، خوف او رجأ، رضأ، **رياضت**، شُکر، صبر ، عبادت او عابد، فقر، قناعت، دونيا، عقبا او مولا.

**لمنليکونه**

١ نسفی، انسان الکامل ٣٣٢ .

٢ نسفی، انسان الکامل ٣٣٣ .

٣ نسفی، انسان الکامل ٣٣۴ .

۴ **اصل : عیسی .** د علي محمد مُخلص د دیوان په ټوله خطي نسخه کي موسا، عیسا، عقبا، معنا او داسي نور عربي ټکي، په اصلي عربي بڼه ( موسی، عیسی، عقبی، معنی . . . )کښل سوي دي .

۵ د « بهشت » ټکی **د مخلص د دیوان په خطي نسخه کي ځیني ځایونه د « بهښت » په مفغنه او ځیني ځایونه په اصلي پهلوي/ پاړسي بڼه ( بهشت) راغلئ دئ .**

۶ اصل : تجلی .

پاته لري